**دانټرنيټ دفارسی سرچينو څخه**
ژباړونکی :
عزيز خوارمل

دپښتنو په هکله د ګورډون براون لړليد:

# دافغان دسوزه ول سويو ماشومانو دمړو او جسدونو ايری به دانګليس خاروه فتح کړی ؟!

دلويديز يوی خبری انترنيتی سايټ "آنتي وار " په يوه څيرنه کې وليکل : کوم وخت چې ګورډون براون دخپل ادعا دتکراره ول په حال کې وينايي کول او داهيسی يې وويل « که موږدا اوسمهال دپښتنوسره په جګړه کې نه وايی ، پښتانه به دا اوس په انګليس کې زموږسره په جګړه کې واي اودلته به يې راسره جګړه کړی واي » ، ليکوونکی زياتوی دا اوس دسوزه ول سوی ماشومانو دمړواوجسدونوخورا زيات تيزبوی چې دناټو په عملياتوکې دافغانستان دقندوز ولايت دسند ترڅنګ صورت وموندل زموږ وپزي ته رارسيږی .










دآنتي وار دغه څيرنيزه مقاله چې د "جان پيل ګ ر " John Pilger " په قلم ليکل سوی دی ،هغه په دی مقاله کې ليکلی : په هغه ورځ چې دانګليس لمړی وزير " ګ ور ډ ون براون " دخپل غيرواقعی ادعاد تکراره په حال کې وو او ويل يې « که موږدا اوس دافغانستان په خاوره کې دپښتنوسره دجګړی په حال کې نه واي ،نوپښتانه به زموږپه خاوره کې زموږسره په جګړه کې واي اوزموږسره به دلته جنګيدل» دبراون دغه ويناپه داهيسی حال کې ووچې دافغان غيروسلوالو او ولسی خلکودسوزه ول سوی ماشومانود مړو او جسدونو دايريوخورازيات تيزبوی چې دقندوز دسند ترڅنګ صورت موندلی وو زموږوپزی ته رارسيدی .
دغه ليکوونکی ددی وينا په بيانولوسره وايی،واقعيت اوربښتيا خو دا وو چې داځل دناټوالوتکی ډېرخوارا اوډېرپقر ،خواراوپقرافغانان يې نښانه نيولی وو، دی زياتوی : دا ځل

دناټو دعملیاتوقربانیان ،داهغه ولسی کلیوال خلک وه چې دسونګ دموادو دلاسته راوړلودپاره ودغه دتیلو ودوه تانکونوته هغه سیمی ته تللی وه اودتیلودتانکونوترڅنګ ولاړ وه اودهغودجملی څخه ډېر ه برخه يې ماشومان وو چې داوبو دډبیواوګیلنونوسره راغلی وه ترڅویولږ دسونګ مواد «تیل» ترلاسه کړی . چې دناټوپه دی یرغل کې د دوي څخه نهوی (۹۰) تنه مړه سول اودا شمیره په داهیسی حال کې ده چې ناټوهیڅکله هم اجازه نه ورکوي چې دناټو دیرغلونوپه ترځ کې دی دولسی غیر وسلوالو خلکودقربانیانوشمیردی په دقیقه اوربښتینی توګه سره ښکاره اوڅرګنده او ودی شمیرل سي .

دلیکوونکی دپورتنی رپوټ پربنسټ "محمد داوود " چې ددی یرغل او پیښی دعینی شاهدانواولیدونکو دجملی څخه وو اوددی رامنځته سوی یرغل پیښه اوصحنه يې یوه جهنمی پیښه اوصحنه توصیفول ده ویل چې په دغه پیښه کې دانسانانو دتن څخه دلاسونواودپښوجلاکیدل مي ولید چې په هری لوری باندی لویدلی اوپراته وه، په دی اړه داود وویل ، چې دایوه ډېره عجیبه او حیرانونکی صحنه وه.

په همدی ډول سره دا بربنده اوښکاره ده چې هیڅوک به د "ویلتشایر " په واټ کې ددی کسانودوینودغوښتنودبدل دپاره په مظاهره لاس پوری نه کړی .

جان پیلګرهمدارنګه ددی وینا په بیانول سره چې ددی ژوری غمیزی په پوهیدوسره و ډېرزیات عینی شاهید ته هم اړتیا نسته . اوبیاده ددی مطلب په هکله په اشاری سره وویل : دبراون په دستوراولاربشودنی سره دانګلیسی الاصل ایرلندی ژورنالیسټ "استفان فارل " ( **Stephen Farrel**)، دخلاصون په: اړه عملیات ترسره سواودغه دخلاصون عملیات په ډېره اندازی سره یوه ((خوږه کړنه وه)) چې ددی کار دکړنی منځ دستونزی سره مخامخ سو اودحیثت اودآبرودراتویدواودرا ولیدوسبب وګرځیدی . اوبیاددی عملیاتو په ترځ کې یوانګلیسی سرتیری ووژل سو، استفان فارل خلاص سو او "سلطان منادي " د استفان فارل افغان لارښود اودلاری ملګری همدارنګه یوازی پاته سو ترڅوچې ووژل سو.نوداڅرګنده اوښکاره خبره او واقعیت دی چې دمنادی کورنۍ اوس ډېر ښه پوهیږی چې دیو انګلیس وینه دیوافغان تروینی څونه ارزښت لري اوڅونه رنګینه وینه ده ؟.

* هغه جګړه چې په درواغو پیل سواو په دوراغوسره ادامه اوپايښت يې وموند:

ددی لویدیزوال څیړونکی ددی لیکلی مقالی پربنسټ ،د(۱۹۱۴څخه تر ۱۹۱۸ زیږدیزکال) پوری ،دلمړی نړیوالی جګړی په ترځ کې ،«لویدجورج - **Lloyd George**» **دانګلیستان لمړی وزیرهغه وخت** تر دی سرلیک لاندی په دی ډول سره دجګړی په هکله يې ویلی وو: ((که خلک دجګړی پرحقیقت باندی پوهیدلی واي ،جګړه به سمدلاسه سبا ته پای ته رسیدلی واي . دوي نه پوهیږی چې حقیقت څه شی دی اونه سي کولای چې وپوهیږی .)) دغه لیکوونکی ددی لیکنی په ادامه لیکی : ایا دیوی پیړی په تیریدوسره ددی خبرواو ویناووڅخه ، لویدیزوال ټولنه لاتر اوسه پوری نه باید وهغه ځای ته رسیدلی وي چې ګوډون براون سرکال ونه سي کړای حقیقت اوربښتیا دهغوي څخه پټ کړي ؟ نودافغانستان جګړه ،هغه جګړه ده چې د درواغوسره پیل سوی دی اوپه درواغوسره ادامه اوپایښت مومی . دغه جګړه دامریکایانولخوادسپټامبر دیوولسمی (۱۱می) نیټی دپیښی دغچې اخیستنی څخه په دی پلمه پیل سویدی ،دغه غچه اخیستنه

دیوخاص سړی څخه نه وو بلکی دطالبانوڅخه اویاپه ښه توګه سره ووایم چې دافغانانوڅخه وو. چې هیڅ ډول دعوا اومخالفت یې دامریکایانوسره نه درلودل اود« تیلو دنل لیکو» داستراتیژۍ په اړه چې حتی دبیل کلینتون د دولت سره یوه سلسله اواړیکه یې درلودل . اوهمدارنګه حتی طالبا نو دایې هم منلی وو چې "اسامه بن‌لادن " دی دافغان متنفیذینواوروحانیون په شته والی کې دی محاکمه سي ، اما دطالبانودغه وړاندیز ونه منل سو .

جان پیلګرددی ویناپربنسټ ټینګار کوي هغه داچې ددی جګړی د ادامه ورکولو اوپایښت واقعی او رښتینی علت ،دافغانستان په استراتیژیکه سمیه کې دامریکایانو او دناټو دشته والی څخه عبارت دی . دغه لیکوونکی په دی هکله وویل : دانګلیسانودپاره هم په افغانستان کې ددوي شته والی یوازی دا دی چې دغه امر دامریکایانوغوښتنه ده . اودغه ادعا چې امریکایی ځواکونه اودناټوځواکونه دطالبانوسره دجګړی په حال کې دی په دی ماناسره،ترڅوچې طالبان کومه ورځ دلویدیزوهیوادونو په واټونوکښې پردوي باندی یرغل ونه کړی ؟ . نودامریکا دپخوانی جمهور ریس "لیندن جانسون " دهغه دخاطراتوپه یاد دهغه وینا اوخبر ی را ژوندی کوي چې هغه داهیسی یې ویلی وو ((که په ویټنام کې دکمونیستانوسره ونه جنګیږو ،سبا به اړ یو چې په کالیفورنیا کې ددوي سره وجنګیږو . ))

په دی ډول سره په دی ځای کې یو توپیر ترسترګوکیږی . دهغه خلاف چې براون ورباندی ادعایې کړي ، نه دانګلیسی ځواکونوبیرته تګ وخپلوهیوادته چې ددی ځـــواکونو شتون اوپا یښت په افغانستان کې ممکن دی چې ددی جګړی دګړندیتوب سبب دی دانګلیس په هیواد کې وګرځي . ځکه دانګلیسی ځواکونو دبیرته ورتګ سره وخپل وکورونوته ، بروان دانګلیسی مسلمان ځوانانو په منځ کې د«جهاد» حس دواکمن کیدوپه حال کې وینی چې کیدی سي په دی هیوادکې به د دولت پرضد ډیری پیښي رامنځته سي . اوهمدارنګه په دانګلیس په هیوادکې مدام یولړپیښی دافغان مسلمانانوپه وړاندی ترسره سویدی چې براون په خپله دیوشمیرجنایتونو دصحتی لیدونکی هم دي . اوحتی په دی اړه دبراون امنیتی سلاکار ده ته یې ویلی دی چې ددی جګړی پایښت کولای سي دانګلیس وخاوری ته دغه شخړی او اخ اوډب په پراخه ډول سره را وغزه وي اوپه دی صورت کې به ددی امر مسؤولیت بیابه دبروان پرغاړه باندی وي .

*دانګلیس دکار دګوند په څیره کې د بی باوری لیکی‌او نخښی :

دغه لویدیزوال ګوتنیونکی دبراون ډیر درواغ ویل یې دانګلیس دکار دګوندیوه بی باوره اودنخښواونښانیوڅخه ډکه مدرنه څیره چې په یوجنایت کوونکی ګوند باندی اوښتی دی داهیسی یوګوندیي وبلل اوپه دی هکله یې زیاته کړه : ایا هغه استازی چې ددی ګوند د کلنۍ مراسمو دپاره تیاری نیسی ،ایا په دی مهمه ټکی باندی پوه اوخبردي ؟ البته هغه استازي چې هیڅکله یې خپل هوټ اورایه یې دتونی بیلر دوینوتویه ونی سیاست دپاره چې په عراق کې یې لازم اواړین نه ګڼل اوکوم وخت چې تونی بیلر دخپل کابینی سره یوځای داستازوپه غونډه کې د دوي څخه یې خدای په امانی اخیستل ټول

استازی ورته ودریدل اورته يې لاسونه ښوره ول اوچک چکی يې ورته کول چې وداهیسی ټکوته باید ځیر سي .

دغه لیکوونکی ددی وینا په بیانولوسره لیکې ،ددی جګړې دپای ته رسولو دپاره یوازی یوه لاره سته دی هغه داچې دانګلیس د خلکوعمومی افکار دا ومني چې امکان نه لري لویدیز دی په دی جګړه کې بریالی سي ، ده په اړه ولیکل : په هیڅ ډول سره شک اوتردید نسته چې دغه جګړه غیراخلاقی اویوه تیروتنه اود درواغوپربنسټ باندی جګړه ده اوپه هم هغه ډول سره چې دعراق جګړه هم هغسی وو،دغه جګړه هم هغسی یوه جګړه ده ، اودسیمی دیوی څیړونکی په حواله دغه جګړه د رواندا دخلکودنسل وژنوڅخه ډېره وحشتناکه جګړه ده .

جان پیلګر ددی مقالی په ادامه لیکې ،دا له همدی کبله دی چې انګلیسی ټولنه خصوصاً ددی ټولنې ځوانان ددی هیواد وپارلمانی لوبوته نور هیله مند نه دی دغه لیکوونکی په دی اړه ولیکل : تونی بیلر په (۲۰۰۵) زیږدیزکال کې دلږوهوټونو په اخیستلوسره د (۱۹۹۷) زیږدیزکال په پرتله بریالی سو ،اوهغه څه چې يې ترلاسه کړی وواوپه ټول ټاکنوکې دبنسټ پالوڅخه مخته سو اوبری ترلاسه کړ .مګرداوسمهال نښی نښانی ددی ښکارندوی دی چې دانګلیس دکاردګوند هوټونه اورایی ددی هیواد دخلکوپه منځ کې مخ پرلږیدو او راکښته کیدودي . په انګلیستان کې اوسمهال دهوټونودورکولوخاندوان وینی چې براون دحاتم طایی په شان ویوشمیربانکوته دملیاردونویورو اوپیسیو د ډالی ورکول په حال کې دی چې دغه بانکونه یوځل يې خپل امتحان هم ورکړی دی او په پایله کې دانګلیس ټول اقتصادیې د منځه وړی دي .

دشلو(۲۰) صنعتی هیوادونویادجی شل (۲۰G) دډلی دمشرانو غونډه چې په لندن کې ترسره سول ، کورډون براون دفرانسی اودالمان (جرمنی ) دوړاندیز اوطرحې سره چې یوشمیر اروپایی هیوادونووشرکتونوته دجریمه په ورکولو اوجزا ورکولوپوری اړه يې درلود ورسره مخالفت يې وکړ اوبروان ځان يې ترنورو پرلوړوپوړ یوباندی ځای ورکړ او د براون ددی سیاستونوپه وخت کې وو ،چې په انګلیستان کې طبقاتی واټن اوتوپیر دخوارانو(پقریرانو ) اودبډایانو(شتمنو) ترمنځ په ډېره اندازی سره د(۱۹۶۸) زیږدیزکال را په دی خواڅخه را رسیدلی اورامنځته دی .

جان پیلګر دخپل دغه مقالی په پای کې ددی جملی په بیانولوسره لیکې :«لوبه پای ته رسیدلی ده »اوبیایې داډول و لیکل : ډلی غوښتنی ،واک غوښتنی اوفوځې یرغل ددی سبب سویدی چې دانګلیس پارلمانی دموکراسی په ټینګه سره بدنامه سي اودافغانانودپاره چې دانګلیس دملت په دفاع کې ټوټه ،ټوټه سول نوددی کبله دانګلیسی سیاسي مشرانو بی ځایه هیلی ځلی ،خیزونه اوځغاسته دانګلیس دکار دګوند په کنفرانس کې نورنوګټه نه لري / .

اخیځلیک : دقطره نیوز څخه .





